## الدرس الرابع
## احكام الاصيد

## څلورم درس
## د ښکار احکام

د حاجت مطابق ښکار کول جائز دی ، هسی د مشغولتیا او لوبو دپاره مکروه دی د ښکار د لګیدلو نه پس دوه حالتونه دی :

١- یو حالت چې ژوندی په لاس راشی نو ذبحه کولی به شی .

٢- که چرته مړ وی او یا په آخری ساګانو کښې لاس له راشی نو بغیر د ذبحۍ نه هم جائز دی .

د ښکار کونکي دپاره هغه شرطونه دی کوم چه د ذبحه کونکي دی ، لکه عاقل مسلمان او یا کتابی به وی ، د مسلمان دپاره د لیونی ، مجوسی ، مشرک او کافر ښکار خوړل جائز ندی

آله د ذبحۍ باید تیره وی چې وینه په آسانۍ سره وبهیوی ، د هډوکی اود نوکانو نه به نوی جوړه شوی ، یعنی ټول انواع د هډوکو به نوی ، او حیوان به د تیره والی دوجې نه پریکوی ، نه د دروند والی د وجې نه ، او هرچې ښکاری سپۍ یا ښکاری مارغه زخمی کړی وی د هغې خوراک هم جائز دی چې کله مُعلم (تعلیم ورکړې شوی وی) یعنی دښکار ښودنه ورته شوی وی .

**د ښکارۍ حیوان تعلیم**

کله چې مالک ئې ښکار پسی لیږی نو ځی، او ښکار د مالک دپاره نیسی ، تر څوچې مالک ورله راشی ، د خپل ځان دپاره ښکار نه نسی،که یو ښکاری د ښکار په نیت آله ویشتلۍ نوی بلکه په خطائی سره د لاس نه ګوزار شی ، او حیوان ورباندی مړ شی ، نو دغه حیوان حلال ندی ځکه چې نیت د ښکار ئې پکښې نوو کړی ، دغه رنګه که ښکاری سپۍ پخپله ښکارپسی لاړ شی ، دغه ښکار هم حلال نه وی ځکه چې مالک ندی لیږلۍ ، او نه پکښې نیت د ښکار شته دی ، که چرته ښکاری غَشی ؤیشته یا ورباندی بل حیوان ولګیدو یا ډیر حیوانات په یوځل باندی و لګیدل نو ددی خوراک جائز دی .

د غشی ویشتو په وخت یا د ښکاری حیوان د لیږلو په وخت کښې بسم الله ، الله اکبر وئیل سنت دی ، ګویا کښې دغه ښکار ئې په لاس باندی ذبحه کړو .